# د 27 لمونځونو ثواب

## 17-June-2021



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

# د 27 لـمونځونو ثواب

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! چې كله جُمات ته داخل شئ، نو ياد ساتئ او د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا تړول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د نبـئ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: د جُمُعے په شپه او د جُمُعے په ورځ په ما باندې د دُرُود شريف كثرت كوئ [يعني ډير دُرُود شريف لولئ]! څوك چې داسې كوي، په ورځ د قيامت به زه د هغه ګواهي وركووم او شفاعت به ئې هم كووم. **(1)**

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...شُعَبُ الۡاِيۡمَان، باب فى الصلوات، جلد:3، صفحه:111، حديث:3033۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** (يعني) رښتينے نِيَّت د تولو نه افضل عمل دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د **اَلتَّحِيَّات** په شكل كښې كښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اَميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يو يادګار حكايت

شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په خپله رساله "**تَذْكِرَه صَدْرُ الشَّرِيْعَه**" كښې خپل يو يادګار حكايت نقل كوي، فرمائي: زما د وړوكوالي يا د هلكوانئ واقعه ده: يوه ورځ زه د خپل مشر ورور (مرحوم) سره غالباً ماسپښين لـمونځ "**بادامي مسجد**" كښې ادا كولو نه پس د جُمات نه بهر راوتلے ووم، امام صاحب د لمَانځه نه فارغ شوے وو او د جمات نه بهَر ته ئې تشريف راوړے وو، چا به ترينه د كومې مسئلے تپوس كړے وو، امام صاحب يو

1…جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

کس ته حکم اوکړو لا ړ شه! ”**بَهَارِ شريعت**“ راوړه...!! چنانچه کتاب راوړے شو او د هغوئي په لاس کښې ورکړے شو، په هغه کتاب باندې په غټو حروفو کښې ”**بَهَارِ شريعت**“ ليکلے شوے وو، امام صاحب يو څو صفحے واړولې، شيخ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: هغه وخت ما خاص لوستل نه شو کولے خو ځائے په ځائے پکښې په غټو حروفو کښې لفظِ ”مسئله“ ليکلے شوي وه، ځکه چې د مسائلو په اوريدلو به ما ته سکون ميلاويدلو، نو زما شوق پيدا شو چې کاش! دا کتاب ما ته ميلاو شي، خو نه ما د مذهبي کتابونو دُکان ليدلے وو، او نه مې دا شعور لرلو چې دا کتاب په بَيعه اخستے شي، خير که اخستل ئې کيدلے شو هم، نو ما به څنګه اخستے وے، دومره پيسے به د چا سره وے...!!

بهَرحال! **بَهَارِ شريعت** نوم زما په ذِهن کښې پوخ کښيناستو او آخر هغه ورځ هم راغله چې د **الله** پاك په رحمت سره ما **بَهَارِ شريعت** واخستلو. په هغه ورځو کښې **بَهَارِ شريعت** په 2 جلدونو کښې وو، هديه ئې پاکستانئ 32 روپۍ وه. او بغير جلد والا هديه 28 روپۍ وه- ما مکمل **بَهَارِ شريعت** بغير جلدونو والا په 28 روپۍ واخستلو. په هغه زمانه کښې دا ښے ډيرې روپۍ وے، او د **بَهَارِ شريعت** 17 حِصّے وے، اوس ئې 20 حِصّے دي، اَلْحَمْدُ لِله! ما ته د دې کتاب په برکت د معلوماتو ډيره قيمتي خزانه په لاس راغله چې د نن وخته پورې زه د دې کتاب ستائنه کووم- د دې عظِيمُ الشَّان تصنيف مُصَنِّف خليفه اعلٰی حضرت، صدرُ الشريعه، بدرُ الطريقه، مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے. **(1)**

دم سے تیرے بہارِ شریعت ہے چار سُو | باطل ترے فتاویٰ سے لرزاں ہے آج بھی

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نن مونږه ټول د هُم هغه بُزُرګ په ذِکرِ خير کښې

---

[1]...تَذْکرۂ صَدْرُ الشَّرِيْعَه، صفحه:32۔

شامِل يو، چې دُنيا ئې د صدرُ الشريعه، بدرُ الطريقه، مفتـي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نوم پيژني، د هغوئي ليکلے شوے کتاب "بَهَارِشريعت" نن هم د عُلماؤ ضرورت دے، نن هم په دې کښې ليکلي شوي مبارك مسائل د لمَر د پلوشو په شان ځليږي، بَهَارِشريعت ته د فِقه حَنَفِـي اِنسائيکلو پيډيا وئيلے کيږي.

اے عاشقانِ رسول! اوس چې کوم حکايت مونږه واوريدلو، په دې لږ سوچ اوکړئ او د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په سيرت باندې غور اوکړئ! اوګورئ د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ماشوم والي يا هلکوانئ دور وو، په دغه عمر کښې عام طور د ماشومانو تَوَجُّه د لوبو د سامان اخستلو طرف ته ځي، زړه ئې دُنياوي څيزونه اخستل خوښوي خو د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ماشوم والے څنګه وو؟ هلکوانه ئې څنګه وه؟ په دغه عمر کښې د هغوئي خواهش وو چې په څه طريقه د فِقه حنفي عالم جوړلو والا کتاب "بَهَارِشريعت" حاصل کړے شي، روپـئ ورسره نه وے نو انتظار ئې کولو، يقيناً د روپو جمع کولو کوشش به ئې کړے وي، نو هله به ئې کتاب اخستے وي، بيا د دې عظيم کتاب اخستلو نه پس ئې د خوشحالئ دا حالت وو لکه يو لوئ دولت چې په لاس ورغلے وي...!! اَللهُ اَكْبَر! داَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ماشوم والي دا انداز څومره ښکلے او عجيبه دے! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن چې شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په کوم مقام موجود دے، علمائے کرام فرمائي: د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه چې کله د يوے مسئلے تپوس اوکړے شي نو هغوئي په ډير سوچ سره د هغه مسئلے تفصيل بيانوي، داسې معلوميږي لکه د بَهَارِشريعت ډير بابونه ئې چې زباني ياد دي او د فِقه په مسائلو باندې ډير عُبُور لري.

سُبْحٰنَ الله! ماشوم والے ئې هم داسې باکماله وو او نن هم اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په ټوله دُنيا

کښې په لکونو عاشقانِ رسول د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه برکتونه حاصلوي.

امیر اہلسنت! آپ کی ہمت کیا کہنا | جو بد کو نیک کر دے اس دعوت کا کیا کہنا
شُعُور و عِلم و آگاہی ملے جس سے مسلماں کو | ترے پیارے نظامِ عِلم اور حکمت کا کیا کہنا[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د صَدرُ الشَّرِيعه مختصر تعارُف

اے عاشقانِ رَسُول! مُحسِنِ اهلِسُنَّت، خليفه اعلٰی حضرت، مُصنِّف بَهَارِ شريعت، حضرت علامه مولانا مفتـي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 1300 سنِ هجرئ کښې د هِند په يوه علاقه مَدِينةُ العُلماء گهوسي شريف کښې پيدا شوے وو هغوئي ابتدائي تعليم د خپل نيکه حضرت مولانا خُدا بخش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه په کور کښې حاصل کړو، بيا ئې د خپل کلي په مدرسه ناصِرُ العُلوم کښې سبق وئيلو بيا جونپور ته لاړلو او د مولانا محمد صِدِّيق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه ئې څه سبقونه اووئيل، آخر دا چې د حضرت علامه هدايتُ الله خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او درسِ نِظامي يعني عالِم کورس ئې مکمل کړو د هغې نه پس هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په پيلي بهيت کښې د حضرت مولانا وَصِـي احمد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه ئې دوره حديث شريف مکمل کړو.[2]

درسِ نِظامي مکمل کولو نه پس صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په صوبه بِهار (هِند)

---

[1] ...مناقِبِ عطار، صفحه:13۔

[2] ...تَذْکِرهٔ صَدرُ الشَّرِيعَه، صفحه:65۔

کښې په "مدرسه اهلِ سُنَّت" کښې تدريس [يعني طلبه ته سبق وئيل] شروع کړو په دې دوران کښې ئې د اعلٰی حضرت، امامِ اهلِ سُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره ملاقات اوشو او د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه ئې بيعت اوکړو صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته دا سعادت هم نصيب شو چې هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 18 کالو پورې د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په صُحبت کښې حاضر اوسيدلو. (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** صدرُ الشَّرِيعه، مولانا امجد علی اعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې د حاضريدلو نه پس ټول عمر د دِين په خدمت کښې مصروف اوسيدلو، آخر په 1367 هجري بمطابق 1948ء کښې ئې د حج اراده اوکړه او سفينهٔ مدينه [يعني د مدينے سمندري جاز] ته ختلو د پاره د خپل وطن مدينةُ العُلَماء ګهوسي شريف نه بمبئ ته راغلو، دلته هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته نمونيا شوه او سمندري جاز ته ختلو نه مخکښې د ذِيْقَعْدَةُ الْحَرام په دويمه شپه، 12 بجے او 26 منټ باندې د دې فاني دُنيا نه رُخصت شو. (2)

**اے عاشقانِ رَسُول!** مرګ خو به هر يو له راځي خو د صدرُ الشَّرِيعه، مولانا محمد امجد علی اعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قسمت اوګورئ چې د حج د سفر په دوران کښې وفات شو او د حديثِ پاك مطابق کوم کس چې د حج د سفر د پاره د کور نه اوځي او په لاره کښې وفات شي نو تر قيامته پورې به د هغه د پاره د حج ثواب ليکلے کيږي. (3)

---

[1]...تَذْکِرهٔ صَدْرُ الشَّرِيْعَه، صفحه:158ملتقطاً۔
[2]...تَذْکِرهٔ صَدْرُ الشَّرِيْعَه، صفحه:39۔
[3]...مُسند ابو يعلی، جلد:5، صفحه:44، حديث:6350۔

مدینے کا مسافر ہند سے پہنچا مدینے میں | قدم رکھنے کی بھی نوبت نہ آئی تھی سفینے میں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د صدرُ الشَّرِيعه د لمَانځه شوق

اے عاشقانِ رسول! صدرُ الشَّرِيعه، مولانا مفتـي محمد امجد علی اعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به لمَانځه سره ډير محبت لرلو، که په سفر کښې به وو او که په کور کښې به وو کله به ئې هم لمُونځ نه قضا کولو، په سخته بيمارئ کښې به ئې هم لمُونځ ادا کولو، يو ځل هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اجمير شريف کښې وو چې سخته تبه ئې شوه، تر دې چې بے هوشه شولو، د غرمے نه واخله تر مازديګره پورې بے هوشه وو، حافِظِ ملت مولانا عبدُ العزيز مبارك پوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شاګرد دے، دوئي د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خدمت د پاره حاضر وو، صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله په هوش کښې راغلو نو د ټولو نه اوَّل ئې دا تپوس اوکړو: څه وخت دے؟ د ماسپښين وخت پاتې دے که نه؟ حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته وخت اوښودو او عرض ئې اوکړو چې: د ماسپښين وخت خو تير شوے دے. دا ئې چې واوريدل نو صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير په تکليف کښې شو او د سترګو نه ئې اوښکې رواني شوې. حافظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض اوکړو: جناب! آيا په څه ځائے مو درد دے؟ څه تکليف دے؟ اوئې فرمائيل: (ډير غټ) تکليف دے راته، او هغه دا چې د ماسپښين لمُونځ رانه قضا شو، حافظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته عرض اوکړو: جناب! تاسو بے هوشه وئ، د بے هوشئ په حالت کښې لمُونځ قضا کيدلو باندې ستاسو هيڅ مُواخَذَه (يعني د قيامت په ورځ څه تپوس) نشته. د خپل شاګرد د تَسَلَّـئ نه ډکه دا جمله ئې چې واوريدله نو صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کوم جواب ورکړو هغه د زړه په غوږونو د اوريدلو لائق دے، يعني چې کله حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض اوکړو چې د دې لمُونځ په قضا کيدلو هيڅ ګناه نشته، نو د دې په جواب کښې ئې اوفرمائيل: تاسو د

مُؤاخَذے خبره کوئ؟ (یعنې تاسو دا وائې چې د قیامت په ورځ به درنه تپوس نه کیږي، آو دا خو صحیح ده چې د بے هوشۍ په حالت کښې په لمُونځ قضا کیدلو څه ګناه نشته خو) افسوس! زه په مقرره وخت باندې د **الله** پاك په بارګاه کښې د حاضرۍ نه **محرومه** پاتې شوم....!! (1)

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** صدرُ الشَّرِیعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه به د دې خبرې سخته پابندي کوله چې جمات ته حاضر شي او جَمعې سره لمُونځ ادا کړي که په څه وجه به مُؤَذِّن په مقرره وخت باندې را اونه رسیدو نو صدرُ الشَّرِیعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه به پخپله اذان کولو. د بوډا والي په عمر کښې به صدرُ الشَّرِیعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نوي کور قادري منزل کښې اوسیدلو، د هغه ځائے نه جمات لرې لرې وو، او دغه وخت د صدرُ الشَّرِیعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نظر هُم کمزورے شوے وو، یو ځل داسې اوشو چې هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د سحر لمَانځه روان وو، په لاره کښې کوهے وو، لا تیاره وه او لاره هم هواره نه وه، په بےخیالۍ کښې په کوهي ور اوختلو، نِزدې وه چې د کوهي په خُله کښې ئې قدم ایښودے وے، په دې کښې یوه زنانه راغله او په چغه ئې اُووئیل: مولانا صاحب! کوهے دے اودریږئ! ګنې پکښې غورزیږئ. دا ئې چې واوریدل نو صدرُ الشَّرِیعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه خپل قدم شاته کړو او د کوهي نه ډډې ته شو او جمات ته لاړلو. یعنې جمات ته په تللو کښې صدرُ الشَّرِیعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ته داسې مشقت وو، د دې باوجود به هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه جمات ته ضرور حاضریدلو. (2)

---

1...تَذْکرۂ صَدْرُ الشَّرِیْعَه، صفحه:30۔

2...تَذْکرۂ صَدْرُ الشَّرِیْعَه، صفحه:3231۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! تاسو اوليدل! د صدرُ الشَّرِيعه، مولانا مفتـي محمد امجد على اعظمى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لـمانځه سره مَحَبَّت او شوق او هغه هم په جمات کښې د جَمعې سره د اداکولو شوق. **الله** پاك دِ د صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په برکت مونږ ته هم جَمعې سره د لـمانځه ادا کولو شوق او جذبه را عطا کړي.

## د جَمعې لمُونځ واجب دے

بيشکه جمات ته تلل، جمات سره محبت کول، جمات کښې زړه لګيدل، پينځه واړه لمُونځونه په پابندئ جَمعې سره ادا کول د نيك بنده نښه ده، **الله** پاك ارشاد فرمائي:

وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ
(پارہ1،سورۂ بقرہ:43)

**مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان:** او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ.

**مُفسّرِ قرآن،** مفتى احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې (يعنى، او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ) مطلب دا دے چې د جَمعې سره لمُونځ ادا کړئ، ځکه چې د جَمعې لمُونځ د يواځې لمُونځ کولو نه 27 درجے افضل دے. (1)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په هر مسلمان عاقِل يعني چې عقلمند وي ليونے نه وي، چې بالِغ وي نابالغه نه وي، چې آزاد وي غلام نه وي او قادر وي يعني چې جمات ته د رسيدلو طاقت لري، په هغه باندې پينځه وخته لمُونځونه په جُمات کښې د جَمعې سره ادا کول واجب دي، که بغير د څه شرعي مجبورئ نه ئې يو د جَمعې لمُونځ هم پريښودو نو ګنهګار دے او که ډير د جَمعې لمُونځونه ئې پريښودل نو داسې کس فاسِق دے.2

---

1...تفسير نعيمى، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زيرِ آيت:43، جلد:1، صفحه:340۔

2...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:582، حصه:3بتغير قليل۔

او څوک چې جُمات ته د رسيدلو طاقت نه لري مثلاً نابينا دے، يا ئې ښپې سلامتې نه دي، سخت بيمار دے، ګرځيدے نه شي نو په داسې کس اګر چې د جَمعې لمُونځ واجب نه دے، البته د ده د پاره افضل هم دا دي چې څنګه ممکنه وي جمات ته دِ راځي او د جَمعې لمُونځ دِ ادا کوي. زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عام عمل مبارك هم دا وو چې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرض لمُونځونه د جَمعې سره ادا کول.

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د جَمعې لمُونځ

د اُمُّ الْمُؤْمِنِين حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا بيان دے: چې کله د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې سخته بيماري حاضره وه نو حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْه هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د لـمانځه اطلاع ورکولو د پاره حاضر شو، حُضُور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ابو بکـر ته اووايه چې خلقو ته [د جَمعې] لمُونځ ورکړي." بيا چې کله حضرت ابو بکـر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْه د لـمانځه جَمعه ورکولو کښې مشغول وو نو په دې دوران کښې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل طبيعت مبارك کښې څه بهتري محسوسه کړه نو پاځيدلو او دوو کسانو ته ئې دا سعادت ورکړو چې هغوئي په خپل زور حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جمات طرف ته داسې روان کړو چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك قدمونه په زمکه لګيدل، حضرت ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْه چې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د (مبارکو قدمونو) آواز محسوس کړو نو شا ته کيدل ئې شروع کړل، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اشاره اوکړه (چې مه شاته کيږه) بيا خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْه کينړ طرف [يعني ګڅ طرف] ته کښيناستلو، حضرت ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْه په ولاړه او خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ناسته لمُونځ ادا کولو، حضرت ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اقتداء کښې [يعني په حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې] او خلقو د حضرت ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْه (په

اقتداء کښې لمُونځ ادا کولو). (1)

## مونږه هم ښه عاشقانِ رسول يُو!

اے عاشقانِ رسول! د دې حکايت نه زمونږ د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جَمعې سره د ډيرې زياتې مينې اِظهار کيږي چې د ډيرې سختې بيمارئ په حالت کښې هم خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جَمعه پريښودل برداشت نه کړل.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! ښوک چې واقعي رښتيني عاشقانِ رسول دي، هغوئي د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په فرمانبردارئ کښې د جَمعې لمُونځ سره ډير محبت لري، او په هر حال کښې د جَمعې ادا کولو اهتمام کوي. د اعلٰی حضرت، امامِ اهلِ سُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په باره کښې منقول دي چې يو ځل په ربيعُ الاوَّل شريف کښې د دولسمې په محفل کښې د شريك کيدلو او بيان کولو نه پس ماښام اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ سخت بيمار شو، د دې بيمارئ سخته اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پخپله بيانوي، فرمائي: دغه ځل داسې بيمار شوم چې داسې کله هم نه ووم بيمار شوے، ما وصيت نامه هُم اوليکله.

د دې بيمارئ په دوران کښې ئې داسې نازُك حالت وو چې جمات د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د کور خوا ته بالکل نِزدے وو، خو د دې باوُجود پخپله جمات ته نه شو تللے خو قربان شم! د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د جَمعې د لـمانځه سره محبت مرحبا! په دې حال کښې هُم د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه يوه جَمعه هُم نه ده پاتې شوې، حالانکه په دغه حال کښې په هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ باندې د جَمعې لمُونځ واجب نه وو خو هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په افضل باندې عمل کولو او پينځه واړه لمُونځونه به ئې جَمعې سره په جمات کښې ادا کول، د دې صورت دا وو چې څلورو کسانو به په کُرسئ کښې کښينولو او جمات ته به ئې راوړولو

---

[1]...بُخاری، کتاب:الاذان، صفحه:237، حديث:713۔

او د لمَانځه نه پس به ئې بیرته کور ته ورلو. (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے رښتینے عشقِ رَسُول! خو افسوس! اوس د عشقِ رسول صرف اوچتې اوچتې دعوے پاتې دي، افسوس! د روغ صحت باوُجود خلقو نه جَمعه تلل څه چې لمُونځ هم ترینه قضا شي.

هر عبادت سے برتر عبادت نماز
قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نماز
نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ
پیارے نبی کی آنکھ کی ٹھنڈک نماز ہے

ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
ہے مریضوں کو پیغامِ صحّت نماز
رب سے دلوائے گی تم کو جنت نماز
جنت میں لے چلے گی جو بے شک نماز ہے

هر عبادت نه اوچت عبادت دے مونځ
د غمژن زړه د پاره راحت دے مونځ
د دوزخ د اور نه بچ کول کوي دا بے شکه
د خوږ نبي د سترګو یخ والے دے مونځ

د ټول دولت نه لوئ دولت دے مونځ
د بیمارانو د پاره پیغام د صحّت دے مونځ
د رب له طرفه زیرے د جنت دے مونځ
جنت ته نیغ بوتللو والا دے مونځ

کاش! مونږ ته هم پینځه واړه لمُونځونه، په جمات کښې په وړومبي صف کښې د تکبیرِ اولٰی سره د ادا کولو سعادت رانصیب شي او داسې عادت مو جوړ شي چې د مرګ د ساعته پورې رانه د شرعي مجبورئ نه بغیر یوه جَمعه هم لا ړه نه شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جَمعې د لمَانځه فضائل

اَمِیرُ الْمُؤمِنِین حضرت سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما د خوږ نبي صَلَّی

---

[1]…فتاوٰی رضویه، جلد:9، صفحه:547۔

بیان

صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې **الله** پاك د جَمعې لمُونځ ادا كوونكو سره محبت ساتي. **(1)**

د حضرت سَیِّدُنا ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ عَنْہ بيان دے چې د **الله** پاك خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چې كله بنده د جَمعې لمُونځ ادا كړي بيا د **الله** پاك نه د خپل حاجت (يعني ضرورت) سوال اوكړي نو **الله** پاك د دې خبرې نه حيا فرمائي چې بنده د حاجت پورا كيدلو نه بغير بيرته لاړ شي. **(2)**

په يو حديثِ پاك كښې دي: د نارينه لمُونځ په جمات كښې د جَمعې سره، په كور او بازار كښې د ادا كولو نه **25** درجے زيات دے. **(3)**

په يو بل حديثِ پاك كښې دي: د جَمعې لمُونځ د يواځې لمُونځ نه **27** درجے زيات دے. **(4)**

اے عاشقانِ رسول! فرض كړئ د يو كس سره د تجارت سامان دے، كه هغه ئې په خپل ښار كښې خرڅوي نو د هغې [د يو پيس] قيمت **100** روپۍ دے او كه د سمندر نه اخوا بل ښار ته ئې وړي نو [يو پيس به] په **2500** يا **2700** روپـو خرڅ شي نو يقيناً هغه به دا سامان د سمندر نه اخوا په هغه ښار كښې خرڅول خوښوي ځكه چې **25** يا **27** همره ګټه څوك پريږدي! افسوس! د دُنيا دولت زياتولو د پاره خو مونږ لرې لرې ملكونو ته سفر كولو د پاره تيار يُو خو د كور نه يو څو قدمه لرې جمات ته تلل او جَمعې سره لمُونځ ادا كولو او په يو لـمانځه د **27** لمُونځونو ثواب ګټلو كښې بعضې

---

[1]…مسند احمد، جلد:2، صفحه:309، حديث:5112۔

[2]…کَنْزُ الْعُمّال، کتابُ الصّلوٰۃ، جز:7، جلد:4، صفحه:227، حديث:20239۔

[3]…بُخاری، کتاب: الاذان، صفحه:223، حديث:646۔

[4]…بُخاری، کتاب: الاذان، صفحه:223، حديث:645۔

خلق سُستي کوي او په کور کښې لمُونځ ادا کړي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

حضرت محمد بِن سَمَاعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د امامِ اعظم ابوحَنِيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شاګردانو يو شاګر دے. د هغوئي عمر 103 کاله وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هره ورځ 200 رکعته نفل ادا کول. (1)

د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جَمعې د لمَانځه د جذبے دا حالت وو، پخپله فرمائي چې مسلسل د 40 کالو پورې د يو ځل تکبيرِ اُولٰی نه علاوه کله هم زما نه تکبيرِ اُولٰی نه دے پاتې شوے. په کومه ورځ چې زما مور محترمه وفات شوي وه، د هغه يوے ورځې د يو وخت جَمعه را نه پاتې شوي وه نو ما په دې خيال چې د جَمعې د لـمانځه ثواب 25 چنده وي ما هغه يو لمُونځ يواځې 25 ځله ادا کړو، بيا مې لړې ستړګې پټې شوے نو چا راته په خوب کښې اوويئيل: 25 لمُونځونه خو تا ادا کړل خو د فرښتو د اٰمين به څه کوے؟ (2)

اے عاشقانِ رسول! د اللّٰه پاك د نيکو بندګانو د جَمعې د جذبے به څه وائې! چې د يو لـمانځه جَمعه ترينه لاړه نو حضرت محمد بِن سَمَاعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه لمُونځ 25 ځله ادا کړو!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې حکايت کښې د فرښتو د اٰمين وئيلو ذِکر هم اوشو، د جَمعې په لمَانځه کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه نه پس په قلاره اٰمين وئيلے کيږي، دغه شان د دُعا نه پس هم اٰمين وئيلے کيږي، د "اٰمين" معنٰى ده: هُم داسې دِ اوشي. د

---

1...تَارِيْخ بَغْدَاد، جلد:2، صفحه:404۔

2...تَارِيْخ بَغْدَاد، جلد:2، صفحه:404۔

فرښتو د "اٰمين"ډير زيات فضيلت دے. فرمانِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: چې کله اِمام غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ۝ اووائي نو تاسو "اٰمين" اُووائے! ځکه چې د چا اٰمين وئيل د فرښتو د "اٰمين" وئيلو مطابق شي نو د هغه تير شوي ګناهونه به اوبخښلے شي. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت سَيِّدُنا عبدُ الله بِن عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما په باره کښې منقول دي چې کله به د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه جَمعه لاړه نو د بل لـمانځه پورې به ئې نفلونه ادا کول. په يو روايت کښې دي: چې کله به هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه د ماسخُتن جَمعه پاتې شوه نو ټوله شپه به ئې په عبادت کښې تيروله. (2)

د تابعي بُزُرګ حضرت سَيِّدُنا سعيد بِن عبدُ العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه به چې کله جَمعه لاړه نو خپله ګيره به ئې اونيوله او په ژړا به شو. (3)

## د پينځه وخته جَمعې لمُونځونو فضائل

اے عاشقانِ رسول! د صحابه کرامو او اوليائے عِظامو په باره کښې دا تَصَوُّر هم نه شي کيدے چې دا صاحبان به د شرعي اجازت نه بغير د جَمعې لمُونځ پريږدي، خو که د څه عُذر په وجه به ترينه کله د جَمعې لمُونځ پاتې شو نو د هغوئي به داسې حالت شو کوم چې مونږه واوريدلو، خو آه! اوس خو يو ګڼړ شمير خلق بغير د شرعي مجبورئ نه د جَمعې لمُونځ پريږدي، او د چا نه چې جَمعه لاړه شي نو افسوس خو لرې خبره ده د هغوئي په خندا او خبرو کښې هُم د هيڅ قِسمه فرق نه ښکاري. کاش چې! د جَمعې

---

1...بُخاری، کتاب: الاذان، صفحه:251، حديث:782۔
2...الاصابه، جلد:4، صفحه:160۔
3...ابن عساکر، جلد:21، صفحه:203۔

لمُونځ پریښودونکو ته دا احساس اوشي چې د جَمعې پریښودو سره دوئي ته څومره نقصان رسي. د احاديثو مطابق ❁ فرض لمُونځ جَمعې سره د ادا کولو په صورت کښې د ايمان والا کيدلو ګواهي ده ❁ **اللہ** پاك د جَمعې لمُونځ ادا کوونکي خوښوي ❁ د جَمعې لمُونځ د يواځې لمُونځ نه 27 درجې افضل دے ❁ **اللہ** پاك او د هغه فرښتے د جَمعې لمُونځ ادا کوونکو باندې دُرُود ليږي. ❁ د ماسخُتن د جَمعې لمُونځ ادا کول داسې دي لکه نيمه شپه عبادت کول او ❁ د سحر د جَمعې لمُونځ کول داسې دي لکه ټوله شپه عبادت کول. ❁ د جَمعې لمُونځ ادا کولو والا به پُل صِراط باندې د ټولو نه مخکښې د بجلئ په شان تيريږي ❁ د جَمعې لمُونځ ادا کوونکي ته به په ورځ د قيامت د عرش سَورے نصيب کيږي ❁ هغه ته به د دوزخ، منافقت او غفلت نه خلاصے نصيب کيږي ❁ په خپل مينځ کښې به ئې محبت زياتيږي. **(1)**

يو اوګړد حديثِ پاك کښې دي چې، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ❁ چا چې د سحر لمُونځ د جَمعې سره ادا کړو، بيا کښيناستو او د **اللہ** پاك ذِکر ئې کولو تر دې چې لمَر را اوختلو د هغه د پاره به په جنَّتُ الفِردَوس کښې 70 درجے وي، د هرو دوو درجو په مينځ کښې به دومره فاصله وي څومره چې يو تيز رفتاره تربِيَّت شوے د ښه نسل آس په 70 کالو کښې وهي او ❁ چا چې د ماسپښين لـمونځ د جَمعې سره ادا کړو د هغه د پاره به په جنَّتِ عدن کښې 50 درجے وي، د هرو دوو درجو په مينځ کښې به دومره فاصله وي څومره چې يو تيز رفتاره تربِيَّت شوے د ښه نسل آس په 50 کالو کښې وهي او ❁ چا چې د مازديګر لـمونځ د جَمعې سره ادا کړو، د هغه د پاره به د اولادِ اسماعيل نه داسې د 8 غلامانو ازادولو ثواب وي کوم چې د خانه کعبے خيال

[1]...فيضان نماز، صفحه:139۔

ساتونکي [نِظام سنبالوونکي] وي او ❁ چا چې د ماښام لـمونځ د جَمعې سره ادا کړو، د هغه د پاره به د حجِ مَبرُور (يعنې قبول شوي حج) او قبولې شوي عمرے ثواب وي او ❁ چا چې د ماسخُتن لـمونځ د جَمعې سره ادا کړو د هغه د پاره به په لَيۡلَةُ الۡقَدۡر کښې د قيام [يعنې عبادت] کولو همره ثواب وي. (1)

## د جَمعې د لمَانځه حِکمتونه

اے عاشقانِ رسول! اللّٰه پاك او د هغه خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته "جَمعې سره د لـمانځه" ادا کولو حکم کړے دے، علمائے کرامو د دې ډير حکمتونه بيان کړی دي:

❁ مُفسّرِ قرآن، مُفتی احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه "د جَمعې د لـمانځه" يو حکمت بيانوي، فرمائي: د جَمعې په برکت په قوم کښې نظم [و ضبط] وي چې مسلمانان د خپل هر کار د پاره د امام په شان صدر او اَمِير مقرر کړی او بيا د اَمِير داسې اطاعت کوي څنګه چې مقتدي د امام کوي.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! دُنيا دا خبره مني، د نفسياتو غټ غټ ماهرين دا خبره مني چې ترقي او کاميابي صرف د هغه قوم حصَّه ده په کوم قوم کښې چې نظم و ضبط وي، چرته چې نظم و ضبط نه وي، هلته صرف افراتفري، ناکامي او نقصان وي. په نظم و ضبط باندې مشتمل نظام مونږ ته اسلام راکړے دے، داسې نظم و ضبط والا د عِزَّت نه ډك نظام په دُنيا کښې بل چرته نشته. د اسلام عطا کړي د ژوند دې نِظام کښې صرف يو د جَمعې لمُونځ ته اوګورئ!

1... شُعَبُ الۡاِيۡمَان، بابُ: الصّبر، جلد:7، صفحه:137، حديث:9761۔

د ''جَمعې په لمَانځه'' کښې که بادشاه وي او که غلام، که مالدار وي او که غريب، که مالك وي او که نوکر، که تور وي او که سپين، ټول په يو صف کښې اُوګه په اُوګه ولاړ وي، نه پکښې د رنګ او نسل فرق کيږي، نه د عهدے او منصب فرق کيږي، ټول خلق د رنګ و نسل او عهدے فرق ختم کړي او د يو امام په اقتداء کښې لمُونځ ادا کوي، د امام په اقتداء کښې د لمُونځ ګزارو شمير که **5** وي او که **5** زره وي، ټول په شريکه د امام صاحب پيروي کوي، چې امام صاحب تکبير اُووائي نو ټول اَللّٰهُ اَکْبَر وئيلو وئيلو کښې غوږونو پورې لاسونه اوچت کړي بيا د نامه نه لاندې لاسونه اُوتړي، چې امام صاحب رکوع له لاړ شي نو ټول رکوع له لاړ شي، که سجدے له لاړ شي نو ټول په سجده پريوځي او چې امام صاحب سلام واړوي نو ټول سلام واړوي، دا دے د اسلام ښودلے شوے بےمثاله باوقاره! نظم و ضبط.....!!

ایک ہی صَف میں کھڑے ہوگئے محمود و ایاز | نہ کوئی بندہ رہا نہ کوئی بندہ نواز
بندہ و صاحب و محتاج و غنی ایک ہوئے | تیری سرکار میں پہنچے تو سبھی ایک ہوئے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جَمعې د لمَانځه يو عجيبه حکمت

د اعلٰی حضرت والِدِ مُحترم، مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د جمعې د لمَانځه يو عجيبه حکمت بيان کړے دے، فرمائي: چې کله څوک يو حکيم صاحب له علاج د پاره ورشي نو حکيم صاحب مختلف قسم جړې او بوټي را يو ځائے کړي او د هغې نه معجون تيار کړي، (نن صبا ډاکټران هم د يو مرض د پاره مختلف قسمه ګولۍ ورکوي او په هغې کښې د هرې ګولۍ مختلفه فارمولا وي) دغه شان حکيم صاحب قدرتي جړې بوټي را يو ځائے کړي او معجون ترينه تيار کړي، په هغې کښې د هر جړې بوټي کار

جدا جدا وي، خو چې كله دا جرړې بوټي را يو ځائے شي نو په ښه انداز كښې د مرض مقابله كوي او هغه مرض مكمل ختم كړي. دغه شان لمُونځ هم لكه يو علاج دے او دا علاج مُعاشره د بدئ د مرضونو نه، د بےحيائۍ د مرضونونو نه او زړه ته د غفلت د مرض نه شِفا وركوي او د الله پاك قُرب وركوي، زړه صفا كوي او مونږه نيك انسانان جوړوي خو چې كله انسان يواځې لمُونځ ادا كوي نو هغه د دې ټولو مرضونو صحيح مُقابَله نه شي كولے، نفس ئې هُم دوكه كوي، شيطان هُم ورته وسوسے ور اچوي او په لمَانځه كښې خلل پيدا كوي، او كه دا بنده جَمعې سره لمُونځ ادا كوي نو په جَمعه كښې به د الله پاك يو مقبول بنده وي، ځوک داسې بنده به پكښې وي چې هغه ته به د خُشُوع و خُضُوع نِعمَت نصيب شوے وي، په چا كښې به عاجزي او انكساري زياته وي، ځوك به د الله ډيره ويره لرونكے وي، ځوك به زيات زُهد و تقوىٰ والا وي، دغسې دا ټول كيفيات چې را يو ځائے شي نو د يو معجون په شان شكل اختيار كړي، بيا چې كوم لمُونځ د داسې كيفياتو سره ادا شوے وي، هغه به مُعاشره د بيمارو نه مكمله پاكه كړي او د بنده زړه به د دُنياوي خواهشاتو، بدئ او بےحيائۍ، غفلت او نورو باطني مرضونو نه پاك كړي. [1] حديثِ پاك كښې دي: اَلشَّيْطَانُ مَعَ الْوَاحِدِ وَ مِنَ الِاثْنَيْنِ اَبْعَد يعني شيطان د يو سره وي او چې كله دوه شي نو د هغوئې نه لرې اوسي. [2] په يو حديثِ پاك كښې دي: ځوك چې د الله [د رضا] د پاره 40 ورځې تكبيرِ اولىٰ سره د جَمعې لمُونځ ادا كړي، د هغه د پاره به دوه آزادئ اوليكلے شي. يوه آزادي د اور (يعني جَهَنَّم) نه او بله آزادي د نِفاق [يعني مُنافقت] نه. [3]

---

1 …جواہر البیان، صفحہ:83۔

2 …ترمذی، کتاب: الفتن، صفحہ:522، حدیث:2165۔

3 …ترمذی، بابُ: الصّلوٰۃ، صفحہ:78، حدیث:241۔

روان.

اے عاشقانِ رسول! تاسو پخپله اندازه اولګوئ! د صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان مبارک دَور، د تابعينو او تبع تابعينو پاکيزه دور چې خلقو به د جَمعې د لمُونځ زبردست اهتمام کولو، تر دې پورې چې لوهار به خپل څټك د اوسپنې وهلو د پاره اوچت کړو او دغه وخت به اذان اوشو نو څټك به ئې اوسپنې له راچولو نه بغير هسې کيښودو او لمَانځه له به روان شو، څرمن ګنډلو والا به ستن په څرمن کښې پريښودله او جُمات ته به روان شو، د چا مصروفيت به هغه د جَمعې د لمَانځه نه نه شو حصارولے، هغه وخت به مُعاشره هم څومره پاکه وه، د خلقو په سترګو کښې به حياء وه، د خلقو په زړونو کښې به حياء وه، مسلمانان به د يو بل خير خواه وو، په ناپ تول کښې به کمے نه وو، د غريبانو خيال به ساتلے شو او د فحاشئ او بےپردګئ نه به مُعاشره پاکه وه.

او نن زمونږه څه حال دے! د جمعې لمُونځ خو لا پريږده، اوس خو خلق لمُونځونه قضا کوي او په هغې پښيمانه کيږي هم نه، بيا د دې نتيجه هم تول په خپلو سترګو وِيني، هُم دا وجه ده چې زمونږ مُعاشره ورځ په ورځ د ذِلت طرف ته روانه ده، بےحيائي ورځ په ورځ زياتيږي، په مُعاشره کښې نا اتفاقي، جنګ جګړې، يو بل وژل، جرائم، ګناهونه، په ناپ تول کښې کمے وغيره خباثتونه ورځ په ورځ زياتيږي.

اے عاشقانِ رسول! اسلام دا غواړي چې مسلمانان د رضائے اِلٰهي د پاره يو بل سره محبت کوي او په معاشره کښې اتفاق وي، اتحاد وي، ورور ولي وي، ، **الله** پاك په قرانِ کريم کښې ارشاد فرمائی:

| | |
|---|---|
| **وَاعۡتَصِمُوۡا بِحَبۡلِ اللّٰهِ جَمِيۡعًا** (پارہ4،سورۃآل عمران:103) | **مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان:** او تاسو ټول په شريکه د **الله** رسئ مضبوطه اونيسئ- |

زمونږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: تاسو تر هُغه وخته پورې جَنَّت ته نه شئ داخليدے تر څو چې ايمان قبول نه کړئ او تاسو تر هُغه وخته

پورې (کامل) مومنان نه شئ جوړیدے، تر څو چې په خپل مینځ کښې محبت شروع نه کړئ.[1]

او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د جَمعې د لمَانځه په صورت کښې چې کله مسلمانان په صف کښې اودریږي، که مالدار وي او که غریب، که بادشاه وي او که وزیر، ټول د یو بل د اوګې سره اُوګه اولګوي او د یو امام په اِقتدا کښې لمُونځ ادا کوي، د لمَانځه نه پس یو بل سره سلام او مُصافَحه کوي، د یو بل نه د حال احوال پوښتنه کوي، مالداران چې د غریبانو د حال نه خبر شي نو په زړونو کښې ئې همدردي پیدا شي، ګنهګاران چې د نیکو خلقو انداز اوویني نو په زړه کښې ئې د ګناهونو نه نفرت پیدا شي، جاهلان د علماؤ نه علم زده کوي، دغسې هره ورځ پینځه وخته جمات ته د حاضریدلو په ذریعه د مسلمانانو په خپل مینځ کښې محبت زیاتیږي، اتفاق و اتحاد پکښې پیدا کیږي، په زړونو کښې ئې یو بل سره د خیر ښیګړې جذبه پیدا کیږی، او دغسې د جَمعې د لمَانځه له برکته یوه مثالي اسلامي مُعاشره جوړیږي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اوس د جَمعې د لمَانځه دا عظیمې فائدے په نظر کښې ساتلو سره سره راځئ چې مونږه په خپل خراب حال باندې هُم غور اوکړو! نن که ورور د ورور ګریبان ته لاس اچوي نو ولې؟ نن که یو ورور د خپل ورور په ترقئ کولو حسد کوي نو ولې؟ یو بل ته ئې سینے د بُغض او کِینے نه ولې ډکې دي؟ جنګ جګړے ولې ډیرې کیږي؟ په کورونو کښې د امن په ځائے جګړے ولې دي؟ په معاشره کښې قتل او لُوټ مار او بربادي ولې ورځ په ورځ زیاتیږي؟

---

1 ...شُعَبُ الْاِیْمَان،باب: فی مقاربة، جلد:6، صفحه:423، حدیث:8746۔

آيا د دې ټولو اصل سبب چرې دا خو نه دے چې مونږه د اسلام ښودلې شوې هغه طريقے پريښودي دي چې په هغو د عمل کولو سره په خپل مينځ کښې محبَّت زياتيږي او بُغض و کينه ورسره ختميږي، يو بل سره د خير ښيګړې جذبه ورسره زياتيږي او په هغې کښې يوه طريقه د جَمعې لمُونځ هم دے، يقين اوکړئ! چې ترڅو پورې جماتونه آباد وو، د هغه وخته پورې د ګناهونو اډے شړې وے، مسلمانان د يو بل خير خواه وو، په مسلمانانو کښې ورور ولي قائمه وه او مسلمان معاشره يوه مثالي مُعاشره وه.

اے عاشقانِ رسول! هِمَّت اوکړئ او جماتونه آباد کړي! راځئ چې مونږه هُم نِيَّت اوکړو چې زمونږ نه به نور يو لمُونځ هُم نه قضا کيږي، د نن نه پس به رانه د جَمعې لمُونځ نه پاتې کيږي، اِنْ شَآءَ الله! د نن نه به زه ځکپله هُم پينځه لمُونځونه د جَمعې سره ادا کووم او د کور نور کسان به هم د جَمعې پابند جوړووم.... او نورو خلقو ته به هم د دې دعوت ورکووم. اِنْ شَآءَالله!

## دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار ”مدني قافِله“

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نيك جوړيدلو او د نيکو جذبه حاصلولو او د جَمعې د لـمانځه عادت ځولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شئ، د الله پاك په فضل او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په احسان او د اوليائے کرامو په فيضان سره اَلْحَمْدُ لِله! دعوتِ اسلامي جماتونه ډکولو والا تحريك دے، اَلْحَمْدُ لِله!دعوتِ اسلامي جماتونه جوړوي او هغه آبادوي هُم. تاسو هم دعوتِ اسلامي سره مرسته اوکړئ او ”د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح په کوشش“ کښې مصروف شئ، **12** ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ.

په دې **12** ديني کارونو کښې يو ديني کار”**مدني قافِله**“ هم ده. اَلْحَمْدُ لِله! د ټولې دُنيا

عاشقانِ رسول د سُنتو پيغام عام کولو د پاره په مدني قافِلو کښې سفر کوي، تاسو هُم عاشقانِ رسول سره مدني قافِلو کښې د سفر کولو عادت جوړ کړئ.

## د نشئ اصلاح اوشوه

د کراچئ يو کس د ماشوم والي نه د نشے عادت اخستے وو، سحر به ئې د ناشتے په ځائے د چرسو او پوډرو نشه کوله، ډير ځله ئې د ډاکټرانو نه علاج اوکړو خو د نشے عادت ئې ختم نه شو، د نورو ګناهونو په دَلدَل کښې هُم نښتے وو، د واده نه پس به ئې ښځه او بچي هُم د هغه د وجهې نه پريشانه اوسيدل، په څه طريقه په رَبِيعُ الْاَوَّل کښې عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه کراچئ ته را اورسيدلو، هلته پرې يو سپين ګيري مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي شفقت اوکړو او ذِهن ئې جوړ شو چې زه به د دولسو ورځو مَدَني قَافِله کښې سفر کووم، په مَدَني قَافِله کښې په شروع شروع کښې د نشه نه کولو په وجه هغه په تکليف کښې وو، نه به صحيح خوب ورتللو، نه به اُوږے کيدلو خو په عبادتونو کښې به مشغول اوسيدلو او په ژړا ژړا به ئې د خپلو ګناهونو معافي غوښتله، څلور پينځه ورځې پس اُوږے کيدل شروع شو او د شپې خوب ورتلل هُم شروع شو، په مَدَني قَافِله کښې د سفر په بَرَکت د نشے د آفت نه خلاص شو، بلکه پينځه وخته فرض لـمونځ بلکه تَهَجُّد او اشراق و چاشت ئې هُم ادا کول شروع کړل، عِمامه شريفه ئې هُم په سر کول شروع کړه، هغوئي وائي چې د **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول کښې د شامليدلو په وجه ما ته نوے ژوند ميلاو شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه زما ښځه او بچي هُم اوس زما نه خوشحاله دي-

| | |
|---|---|
| اے شرابی تو آ، آ جُواری تو آ | چُھوٹیں بد عادتیں قافلے میں چلو |
| اے شرابي راشه، اے جُواري راشه | پريږ به دئ بد عادتونه قافلو کښې لاړ شئ |

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د نيک او لـمونځ ګُزاره جوړيدلو يوه طريقه خو دا ده

چې عاشِقانِ رَسُول سره په مَدَنې قَافِلو کښې سفر اوکړے شي، د دې يوه طريقه دا هُم ده چې د شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړې د "72 نيک اعمالو" رِساله حاصله کړے شي او هره ورځ په يو مقرره وخت باندې د خپلو اعمالو د جائزے اخستلو په صورت کښې په هغې کښې خانے ډکې کړے شي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه په "72 نيک اعمالو" کښې هُم "د جَمعې د لـمانځه" والا نيک عمل شامل دے، که مونږه د 72 نيک اعمالو والا رساله حاصله کړو او د هغې په ذريعه د خپلې ټولې ورځې [او شپې] د اعمالو د جائزے اخستلو عادت جوړ کړو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ! د دې په بَرَکت به مو هُم جَمعې سره د لـمانځه کولو عادت پوخ شي- الله پاک دِ مونږ ټولو ته پينځه وخته لـمونځونه جَمعې سره د ادا کولو توفيق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "اَوقَاتُ الصَّلوٰة" موبائل ايپلي کيشن

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه د **عاشِقانِ رَسُول** ديني تحريک دعوتِ اسلامي د اِسمارټ فون په ذريعه هُم د عِلمِ دِين عامولو کوشش کوي- په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمِنټ له طرفه مختلِفې موبائل ايپلي کيشنې جاري شوي دي، په هغې کښې يو ايپلي کيشن Prayer Times (يعنی اَوقَاتُ الصَّلوٰة) هُم دے- د دې ايپلي کيشن په مدد د لـمونځونه وختونه معلوميدے شي، په دې کښې کَمپاس هُم ورکړے شوے دے چې د هغې په مدد د قِبلے صحيح طرف معلوميدے شي، د دې نه عِلاوه پکښې ډيجيټل تسبيح، اسلامي کيلنډر او مختلف اَوراد و وَظائِف وغيره هُم شامِل دي- تاسو هُم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن اِنسټال کړئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او د ژوند تيرولو د آدابو بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اُوفرمائيل: زما په نائب دِ د الله پاک رَحمت وي- عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوک دے؟ اُوئې فرمائيل: زما سُنَّتو سره مَحبَّت کوونکي او نورو ته زده کوونکي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## "مُصافَحه کول" سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي

دوه فرامينِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1): خپل مينځ کښې مُصافَحه کوئ (يعني لاس ميلاووئ) دې سره بُغض و کِينه لرې کيږي[2] (2): چې دوه مسلمانان خپل مينځ ميلاو شي او لاس ميلاو کړي نو د هغه دواړو ګناهونه اُوريژيږي[3]

اے عاشقانِ رسول! سلام کولو وخت کښې لاس ميلاوول سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي ❁ زمونږه خوږ آقا و مَولیٰ، مکّي مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ملاقات په وخت کښې صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته سلام کولو او په دواړو لاسو به ئې ورسره مُصافَحه کوله (يعني لاس ميلاوولو)-

❁ ياد ساتئ! مُصافَحه په دواړو لاسو کول سُنَّتِ مُبارکه ده، يو لاس ميلاوول سُنَّت نه دي ❁ بعضې خلق صرف ګوتې خپل مينځ کښې اولګوي، دا هُم سُنَّت نه دي [1]

---

1 ... جامع بيانِ علم، باب: عِلم کے فضائل، جلد: 1 صفحہ: 201، حديث: 220۔

2 ... موطاامام مالک، کتاب: حسن الخلق، باب: ماجاء فی المهاجرة، صفحہ: 483، حديث: 1731۔

3 ... کنزالعمال، کتاب: الصحبة، جزء: 9، جلد: 5، صفحہ: 57، حديث: 25363۔

لاس ميلاولو وخت کښې په لاس کښې رومال وغيره حائل کيدل هُم سُنَّت نه دي بلکه ورغوي سره ورغوے لګيدل پکار دي- مُصَافَحه کولو وخت کښې غټه ګوته معمولي شان زور کول پکار دي، په دې کښې حِکمت دا دے چې په غټه ګوته کښې يو رَګ دے چې د هغې نيولو سره مَحبَّت زياتيږي- مُصافَحه کولو نه پس بعضې خلق خپل لاس ښکلوي، دا مکروه دي- [2]

**الله** پاک دِ د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږ ټولو ته په سُنَّتو باندې د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب "**سُنَّتيں اور آداب**" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دوه رسالے "**101 مدنی پهول**" او "**163 مدني ګلونه**" هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

[1]... 101 مدنی پهول، صفحه: 8-

[2]... بهارِ شريعت، جلد: 3، صفحه: 471 ملتقطاً-

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃُ اللہِ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك اوچتې مرتبې والا دے! چې كله هغه لاړو نو سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵